# د افغـــــانستان اســـــلامي امــــارت

## د ارشـــــاد، حج او اوقــــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۷/ شوال المکرم/۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۷/ ثور/۱۴۰۳هـ، ش**

# په اسلام کې د سلام اچولو فضيلت او طريقه يې

إن الحمد لله، نحمده ونستعينه ونستغفره ونستهديه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا، ومن سيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله، و صفيه وخليله، وأمينه على وحيه، وخيرته من خلقه، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه، أئمة الهدى، ومصابيح الدجى، ومن تبعهم، وسلم تسليما كثيرا إلى يوم الدين، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالي :{وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيباً}النساء: (٨٦)

وقال تعالى: (فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَلِّمُوا عَلَى أَنفُسِكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُون) النور:٦١

**درنو او پتمنو مسلمانانو ورونو!**

داسلام سپيڅلي دين د خپلو احکامو او هداياتو له لارې تل کوښښ کړی دی چې دمسلمانانو ترمنځ مينه او محبت زيات شي او ددوی ترمنځ د ورورولۍ اړيکې مضبوطې شي او داسلام مقدس دين هر هغه عمل شنيع او بد ګڼلی دی چې د مسلمانانو ترمنځ د بغض، کينې، بدبينۍ او اختلاف سبب ګرځي . د سلام په برکت سره له زړونو نه کرکه او نفرت لرې کيږي او د سلام سره د مسلمانانو په منځ کې پيژندګلوی اوشناخت هم راځي . کله چې د دوو مسلمانانو ترمنځ کوم خپګان او خوابدی راشي او څه وخت وروسته د دوی دواړو يو يې بل ته سلام وکړي هغه خوابدي او خپګان هرڅه له منځه ځي، د همدې هدف لپاره يې د سلام اچول مشروع ګرځولی دی او دسلام په اچولو او عامولو يې تاکيد کړی؛ ترڅو په دې سره د مسلمانانو ترمنځ تل اسلامي اخوت ټينګ او غښتلی وي او زوړنه يې يو بل ته پاک او له احترامه ډک وي.

سلام(السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته) اچول په اسلام کې دومره عظيمه تحفه ده چې په دې جمله کې بې شميره معناګانې، فضيلتونه، حکمتونه او فائدې نغښتي دي؛ ځکه يې يهود بد ګڼي.

سلام د اسلام د مبارک دين تحفه ده او د مؤمنانو او اسلامي ټولنې شعار دی ، سلام له ځانه سره د امن، سلامتيا، اطمينان، دعاء، رحمت او برکت پيغام لري او هغه نورو ته ليږدوي. د سلام معنا داده چې داسې دې تل په امن ، سلامتيا او ارامۍ کې او سې، د سلام معنا دا هم ده چې تا سو مطمئن او سئ، تا سو ته به زما له خوا هيڅ ډول زيان او ضرر و نه رسيږي. د سلام معنا دا هم ده چې الله تعالی د تاسو تل سالم او جوړ لري، چې متأسفانه نن صبا د مسلمانانو له خوا نه

مراعت کیږي او په ځینو سیمو کې یې ځای نورو کلماتو نیولی دی لکه ښه چارۍ، ورځ په خیر ، سهار په خیر او داسې نور.

## سلام ډېر زیات فضیلتونه لري چې ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- سـلام اچول د الله جل جلاله له طرفه مبارکه او غوره ډالۍ او تحفه ده د مؤمنانو لپاره لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: (تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً) النور:٦١

۲-په جنت کې به د جنتیانو لپاره د الله جل جلاله له طرفه بهترینه تحفه او ډالۍ سـلام وي.الله جل جلاله فرمایلي دي: (سَلَامٌ قَوْلًا مِن رَّبٍّ رَّحِيمٍ) [یـس: ٥٨].

ترجمه:- سلام دی (چې دوی ته به ویلی شي) ښکاره ویل د رب له جانبه، چې ډېر مهربان دی

۳- سـلام (السـلام علیکم ورحمة الله وبرکاته) به په آخرت کې د ملائکو، انبیاوو، رسـولانو، صـالحینو او د جنتیانو هغه تحفه وي چې کله دوی د خپل پروردګار سره ملاقي کیږي، خپل رب ته به ئي وړاندې کوي، لکه چې الله تعالی فرمایلي دي: (تَحِيَّتُهُمْ يَوْمَ يَلْقَوْنَهُ سَلَامٌ)[الأحزاب: ٤٤].

ترجمه:- ( د الله له جانبه) دوی ته پیشـکشي- به، په هغې ورځ کې چې دوی به له هغه (الله) سره ملاقات کوي، سـلام وي،

۴- السـلام د الله تعالی د نومونو څخه دی.په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَنَسٍ قَالَ: قَالَ رَسُـولُ اللَّهِ صَـلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ السَّلَامَ اسْمٌ مِنْ أَسْمَاءِ اللَّهِ تَعَالَى، وَضَعَهُ اللَّهُ فِي الْأَرْضِ، فَأَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ).الأدب المفرد للبخاری (ص: ٣٤٣)

ترجمه:- د انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې ر سول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي : بیشکه السلام د الله تعالی د نومونو څخه دی او الله تعالی په ځمکه کې ایښی دی؛ نو خپور کړئ سلام په خپلو منځونو کې.

۵- سلام اچول داسلام له غوره خصلتونو څخه دی. په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَجُلًا سَـأَلَ النَّبِيَّ صَـلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَـلَّمَ أَيُّ الْإِسْـلَامِ خَيْرٌ قَالَ تُطْعِمُ الطَّعَامَ وَتَقْرَأُ السَّـلَامَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ).صحیح البخاري (١ /١٦)

ترجمه: دعبدالله بن عمرو ابن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی چې یوسـړي د رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم څخه پوښتنه وکړه چه کوم خصلت د اسلام غوره دی؟ رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته وفرمایل داچې طعام ورکړی ( فقیر انو مساکینو ته) او سلام واچوئ په هغه چاچې پیژنې یې اوپرهغه چا چې نه یې پیژنې.

٦- سـلام اچول د ګناهونو د مغفرت او جنت ته دداخلیدو سـبب دی. په حدیث شریف کې راځي:(عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اعْبُدُوا الرَّحْمَنَ، وَأَطْعِمُوا الطَّعَامَ، وَأَفْشُوا السَّلَامَ، تَدْخُلُوا الجَنَّةَ بِسَلَامٍ). وقال الترمذی: هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ .سنن الترمذي (٤ /٢٨٧)

ترجمه:- د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : عبادت وکړئ د رحمن ذات ، طعام ورکړئ (فقیرانو او مسکینانو ته) او عام کړئ سلام اچول ، داخل به شئ جنت ته په سلامتیا کې.

په یو بل حدیث کې راځي : (عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قُلْتُ يَا رَسُـولَ اللَّهِ، أَيُّ عَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّـةَ؟ فَقَـالَ: إِنَّ مِنْ مُوجِبَاتِ الْمَغْفِرَةِ بَـذْلَ السَّـلَامِ وَحُسْـنَ الْكَلَامِ). المعجم الکبیر (٢٢ /١٨٠) وقال المنذری: روایـة جیدة.الترغیب والترهیب (٣ /٢٨٥)

ترجمه:- مقدام بن شريح د خپل پلار (شريح) څخه روايت کوي او مقدام د خپل نيکه (هانئ بن يزيد) څخه روايت کوي ، هانئ رضي الله عنه فرمايي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: اى دالله رسوله ! کوم يو عمل به ما جنت ته داخل کړي نبي عليه السلام وفرمايل: بيشکه د مغفرت له اسبابو څخه عامول د سلام دي او نيکه خبره ده.

۷-سلام اچول د مسلمانانو ترمنځ محبت زياتوي. په حديث شريف کې راځي:(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا، وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا، أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ؟ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ). صحيح مسلم(۱ /۷۴)

ترجمه:- دابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دى هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې جنت ته به داخل نه شي ترهغه پورې چې مؤمنان شـئ اومؤمنان به نه شـئ ترهغه چه يو تربله محبت وکړئ. آيا زه تاسـې داسې يو شـى در ونه ښـايم چې کله پر هغې عمل وکړى محبت به مو ترمنځ پيدا شي؟ هغه داچې خپور کړئ سـلام په خپل مينځ کې.

۸- په دوه خپه کسـانو کې غوره هغه کس دى چې څوک لومړى په خپل مقابل لوري باندې سـلام واچوي.په حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الأَنْصَارِيِّ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لاَ يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يَهْجُرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلاَثِ لَيَالٍ، يَلْتَقِيَانِ: فَيُعْرِضُ هَذَا وَيُعْرِضُ هَذَا، وَخَيْرُهُمَا الَّذِي يَبْدَأُ بِالسَّلاَمِ ).صحيح البخاري (۸ /۲۱)

ترجمه:- د ابو ايوب انصاري رضي الله عنه څخه روايت دى چې بيشکه رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: جائز نه دي يو سـړي ته دا چې پريږدي خپل ورور(خپگان ورسره وکړي) ددرى ورځو څخه زيات، چې دواړه مخامخ کيږي نو دا هم مخ ورڅخه اړه وي او دا بل هم مخ ورڅخه اړه وي او په دوى دواړو کې غوره هغه کس دى چې لومړى سلام اچول پيل کړي.

د ترمذي په روايت کې راځي: (عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ الرَّجُلَانِ يَلْتَقِيَانِ أَيُّهُمَا يَبْدَأُ بِالسَّلَامِ؟ فَقَالَ: (أَوْلَاهُمَا بِاللَّهِ). وقال الترمذي:«هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ» سنن الترمذي (۵ /۵۶)

ترجمه:- دابو امامه رضى الله عنه څخه روايت دى چې چا وويل اى د الله رسوله! دوه کسان چې سره مخامخ کيږي کوم يو به لومړى سـلام اچوي؟ نبي عليه السـلام وفرمايل: هغه کس به لومړى سـلام اچوي چې دالله تعالى رحمت ته ډير نږدې وي.

۹- سلام اچول دمسلمان نيکي زياتوي. په حديث شريف کې راځي:(عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ أَنَّ رَجُلًا جَاءَ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرٌ ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِشْرُونَ ثُمَّ جَاءَ آخَرُ فَقَالَ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثُونَ). سنن الترمذي (۵ /۵۳)

ترجمه:- د عمران بن حصين رضي الله عنه څخه روايت دى چې بيشـکه يو سـړى رسـول الله صـلى الله عليه وسـلم ته راغى او ورته يې وويل: السـلام عليکم .راوي وايې چې نبي عليه السـلام وفرمايل: ده لره لس نيکۍ دي، بيا بل سـړى راغى هغه وويل: السـلام عليکم ورحمة الله ، نبي عليه السـلام وفرمايل: ده لره شـل نيکۍ دي، بيا بل کس راغى او وه ويل: السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته، نبي عليه السلام وفرمايل: ده لره ديرش نيکۍ دي.

۱۰- کورته دداخليدو پر وخت د سـلام اچول الهي امر دى او کور ته دداخليدو پر وخت د سـلام اچولو له امله، د کور په خلکو باندې برکت نازليږي. الله تعالى فرمايلي دي: (فَإِذَا دَخَلْتُم بُيُوتًا فَسَـلِّمُوا عَلَى أَنفُسِـكُمْ تَحِيَّةً مِّنْ عِندِ اللَّهِ مُبَارَكَةً طَيِّبَةً كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمُ الآيَاتِ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُون) النور:۶۱

ترجمه:- نو کله چې تاسو کورونو ته ننوځئ، نو په خپلو ځانونو سلام اچوئ، (دا) د الله له جانبه مبارکه پاکیزه تحفه ده، همداسې الله تاسو ته ایتونه بیانوي، د دې لپاره چې تاسو له عقل نه کار واخلئ

په حدیث شریف کې راځي: (عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا بُنَيَّ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُونُ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ). وقال الترمذی: «هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ» سنن الترمذي(٥ /٥٩)

ترجمه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ماته رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: ای بچیه! کله چې ته خپل اهل (کور) ته داخلیږې؛ نو سلام اچوه ، دا به سبب د خیر او برکت وي ستا لپاره او ستا د کور د خلکو لپاره.

**١١-**څوک چې مصافحه وکړي مخکې له جداوالي ګناهونه به یې وبښل شي.په حدیث شریف کې راځي:عَنِ الْبَرَاءِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْ مُسْلِمَيْنِ يَلْتَقِيَانِ، فَيَتَصَافَحَانِ إِلَّا غُفِرَ لَهُمَا قَبْلَ أَنْ يَفْتَرِقَا). سنن أبي داود(٤ /٣٥٤)

ترجمه:- د براء رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې دوه داسې مسلمانان نشته چ د یو بل سره مخامخ شي او یو بل سره مصافحه وکړي ، مګر داچې وبه بښل شي ورته(ګناهونه) مخکې له دې چې یو له بل څخه جدا شي.

## د سلام اچولو طریقه :

- د سلام اچولو طریقه داده چې باید مکمل سلام واچول شي او د جَمعې په صیغې سره واچول شي لکه داسې :السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته او په جواب کې هم باید د سلام جواب مکمل ورکړل شي لکه دا سې وعلیکم السلام ورحمةالله وبرکاته.
- د سلام اچول سنت دي ، خو جواب یې ورکول یې واجب دي او که چیرې یوه ډله کسان وي ددوی له خوا سلام اچول ســنت کفایي دي او د ډلې له خوا جواب ورکول واجب کفایي دي . الله تعالی فرمایلي دي: {وَإِذَا حُيِّيتُمْ بِتَحِيَّةٍ فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا أَوْ رُدُّوهَا إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ حَسِيباً}النساء: (٨٦)

ترجمه: او کله چې تاســو ته په ســلام ویلو سره دعا وکړی شي، نو تاســو له هغې نه غوره جواب ورکړئ، یا همغه ور وګرځوئ ، بېشکه الله د هر شي ښه حساب کوونکی دی

امام ابوبکر جصاص رحمه الله لیکلي دي: (وقال أصحابنا رد السلام فرض على الكفاية إذا سلم على جماعة فرد واحد منهم أجزأ) أحكام القرآن للجصاص (٣ /١٨٦)

ترجمه: زمونږ اصحاب (احناف)وایي چې د سلام جواب فرض کفایې دي کله چې په یو جماعت باندې سلام واچول شي او یو کس جواب ورکړ، دا جایز دي.

- ددې مبارک آیت(فَحَيُّوا بِأَحْسَنَ مِنْهَا ) استحبابي حکم دی یعنې زیادت په کلماتو د سلام باندې مستحب دي.

ددې آیت څخه مراد دادی چې که چیرې چا السلام علیکم وویل ، تاسو په جواب کې ورته ووایاست وعلیکم السلام ورحمة الله .که چیرې چا درته وویل چې السلام علیکم ورحمة الله، تاسو ورته په ځواب کې ووایاست وعلیکم السلام ورحمة الله وبرکاته.

او د (أَوْ رُدُّوهَا) څخه مراد دادی چې هغه درته په څومره کلماتو ســلام اچولی دی ، په هغومره اندازه ځواب ورکول واجب دی لکه یو څوک ووایي السلام علیکم په ځواب کې وعلیکم السلام ویل واجب دي او دا د مثل رد بلل کیږي.

په یو حدیث شریف کې راځي: (عَنْ سَلْمَانَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ فَسَلَّمَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: السَّلامُ عَلَيْكُمْ يَا رَسُولَ اللَّهِ، قَالَ:"وَعَلَيْكَ السَّلامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ"، ثُمَّ جَاءَ آخَرُ، فَقَالَ: السَّلامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَرَحْمَةُ اللَّهِ، قَالَ:"وَعَلَيْكَ السَّلامُ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ"، ثُمَّ جَاءَ آخَرُ، فَقَالَ: السَّلامُ عَلَيْكَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَرَحْمَةُ اللَّهِ وَبَرَكَاتُهُ، فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"وَعَلَيْكَ"، فَقَالَ الرَّجُلُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَتَاكَ فُلانٌ وَفُلانٌ فَحَيَّيْتَهُمَا بِأَفْضَلَ مِمَّا حَيَّيْتَنِي؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:"إِنَّكَ لَنْ أَوْ لَمْ تَدَعْ شَيْئًا). المعجم الكبير للطبراني (٦/ ٥٧)، ابن كثير (٢ /٣٦٩)

ترجمه:- د سلمان فارسي رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي يو سړی راغی او سلام يې واچولو پر رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې او داسې يي وويل: السلام عليكم يارسول الله، نبي عليه السلام ورته وويل: وعليك السلام ورحمة الله، بيا بل کس راغی او وه ويل: السلام عليك يارسول الله ورحمة الله.نبي عليه السلام ورته وويل: وعليك السلام ورحمة الله وبركاته.بيا بل کس راغی او وه يې ويل: السلام عليك يارسول الله ورحمة الله وبركاته. نبي عليه السلام ورته وويل: وعليك.بيا هغه سړي وويل: يار سول الله! تاته فلانی او فلانی راغی نو هغوی ته د سلام ځواب زما څخه بهتره او افضله ورکړ؟ (يعنې د هغه د کلماتو څخه په زياتو کلماتو دې جواب ورکړ) نبي عليه السلام ورته وفرمايل: تا هيڅ پری نښودل(يعنې د شرعي سلام ټول کلمات تاوويل ماته دې کومه کلمه پری نښوده چې ما درته په ځواب کې درکړی وی).

- په سلام او دسلام په جواب کې د (وبركاته) څخه نور زيادت په کار نه دی.حافظ ابن کثير وايې:(وفي هذا الحديث دلالة على أنه لا زيادة في السلام على هذه الصفة: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته، إذ لو شرع أكثر من ذلك، لزاده رسول الله صلى الله عليه وسلم). تفسير ابن كثير (٢ /٣٦٩)

په دې حديث کې ددې خبری دليل دی چې ددې ډول السلام ورحمة الله وبركاته څخه نور زيادت نشته ؛ځکه که چیرې زيادت مشروع وی ، نو رسول اکرم صلى الله عليه وسلم به زيات کړی ؤ.

امام ابن مازه حنفي رحمه الله ليکي: (ولا ينبغي أن يزاد على البركات شيء) المحيط البرهاني (٥ /١٦١) په کار نه ده چې په (بركاته) باندې زيادت وشي.

خو ځينې علماء وايې د (ومغفرته) زيادت جائز دی؛ ځکه په ځينو رواياتو کې يې ذکر راغلی دی.

- يواځې د (سلام) په لفظ اکتفاء نه دی په کار ځکه دا مکمل شرعي سلام نه دی. همدا راز د سلام په جواب کې يواځې په (وعليكم) اکتفاء نه ده په کار . امام طبراني په معجم الاوسط کې دا حديث ذکر کړی دی:( أعجز الناس من عجز في الدعاء وأبخل الناس من بخل في السلام)

ترجمه:- تر ټولو عاجز سړی هغه څوک دی چې په دعاء کې عاجز وي او په ټولو خلکو کې بخيل انسان هغه څوک دی چې په سلام کې بخيل وي .(چې يا خو سلام نه اچوي يا يې نيمګړی اچوي).

- همدا رنګه د سلام پرځای ( سهار په خير، ښه چارئ، جوړ تازه) يا ( صبح به خير) ويلو څخه ډډه په کارده ځکه دا دجاهليت دزمانې سلام دی او د سلام د جواب پرځای د (مننه، خير اوسئ، جزاک الله، خوشحاله اوسئ، لوی شئ...)ويل در ست نه دي او د سلام په جواب ورباندې نه اداء کيږي او غاړه يې نه خلا صيږي، البته که چیرې څوک اسلامي سلام واچوي او بيا د حال احوال پوښتنه په نورو الفاظو کوي کوم باک نلري.

- همدا راز سلام د لاس په ا شاره سره پرته د ژبې د تلفظ څخه شرعي سلام نه دی او ځان ورڅخه ساتل په کار دي ځکه يواځې په لاس ا شاره کول د يهودو او نصاراو سلام ؤ. په حديث شريف کې راځي:( عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ:لَا تُسَلِّمُوا تَسْلِيمَ الْيَهُودِ وَالنَّصَارَى، فَإِنَّ تَسْلِيمَهُمْ بِالْأَكُفِّ وَالرُّؤُوسِ وَالْإِ شَارَةِ). السنن الكبرى للنسائي(٩ /١٣٤)

ترجمه:- دجابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د يهودو او نصاراو په شان سلام مه اچوئ ،بيشکه د هغوی سلام اچول د لاس په ورغوي، په سرونو (ښورولو) او (د لاس یا د ګوتو) په اشاره سره وي.

په سنن الترمذي کې راځي: (عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا، لَا تَشَبَّهُوا بِاليَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى، فَإِنَّ تَسْلِيمَ اليَهُودِ الإِشَارَةُ بِالأَصَابِعِ، وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الإِشَارَةُ بِالأَكُفِّ). الترمذي (٥ /٥٦)

ترجمه:- عمرو بن شعيب د خپل پلار (شعیب) څخه روايت کوي او شعيب د خپل نيکه (عبدالله بن عمرو) څخه روايت نقل کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: زمونږ له جماعت څخه نه دی هغه څوک چې ځان په قصدي توګه مشابه کوي زمونږ نه علاوه د نورو خلکو سره، ځانونه مه مشابه کوئ د يهودو سره او نه د نصاراو سره ، بیشکه د یهودو سلام اچول په ګوتو سره په اشاره دی او د نصاراو سلام اچول اشاره کول دي په ورغوو سره.

د همدې وجې نه سلفو علماوو د لاس په اشارې سره سلام کول مکروه ګڼلو. په الأدب المفرد دامام بخاري کې راځي:
(عَنْ عَطَاءِ بْنِ أَبِي رَبَاحٍ قَالَ: كَانُوا يَكْرَهُونَ التَّسْلِيمَ بِالْيَدِ). الأدب المفرد للبخاري (ص: ٣٤٧)

ترجمه:- دامام عطاء بن ابی رباح رحمه الله څخه روايت دی هغه وايي چې صحابه ؤ او تابعينو به بد ګڼلو سلام اچول په لاس باندې.

البته که چیرې هغه څوک چې سلام ورباندې اچول کیږي هغه لرې وي او د سلام اچولو سره یوځای لاس اوچت شي ترڅو هغه متوجه شي ، په دې صورت کې بیا کوم مشکل نشته. یا سلام اچوونکی ګونګی وي او آواز یې څوک نه اوري او دسلام اچولو پر وخت لاس ورسره اوچتوي، په دې کې هم حرج نشته، خو په ټولو صورتونو کې په سلام د ژبې تلفظ ضروري او اړين دی.

o همدارنګه په کار ده چې سلام په جهر او لوړ آواز سره وي او په ټيټ آواز سره نه وي؛ ترڅو اوريدونکی يي واوري او دسلام جواب ورکړي . علامه ابن حجر رحمه الله وايي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حديث کې د( افشوا السلام) څخه همدا معنا مرادده.

او د سلام د جواب ورکوونکي ته په کار دي چې د سلام جواب سلام اچوونکي ته ورسوي او په هغه يې واوروې ، که چیرې په هغه يې وانه اورولو ده د سلام جواب اداء نکړ او غاړه يې نه خلاصيږي.

په المحيط کې راځي:( وينبغي للمجيب إذا رد جواب السلام أن يُسمع المسلم؛ حتى لو لم يسمعه لا يكون جواباً، ولا يخرج عن العهدة). المحيط البرهاني (٥ /١٦٢)

ترجمه:- د سلام جواب ورکوونکي ته په کاردي چې کله د سلام جواب ورکوي چې دسلام جواب په سلام اچوونکي واوروئ، که چیرې د سلام جواب يې په سلام اچوونکي وا نه اورولو دا د سلام جواب نه حسابیږي او د سلام له عهدې څخه نه وځي.

o که چیرې څوک کوم مجلس ته راشي سلام به اچوي که چیرې بیا ورته کوم حاجت پیدا شو او له مجلس څخه ووتلو ، د بیا راتللو په صورت کې به هم سلام اچوي.

o همدا راز لږ خلک به په زياتو خلکو سلام اچوي، روان او حرکت کوونکی او په سپرلۍ سپور شخص به په ناست شخص باندې او ولاړ شخص باندې سلام اچوي او وړوکی په لوی باندې سلام اچوي.

په حديث شريف کې راځي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يُسَلِّمُ الصَّغِيرُ عَلَى الْكَبِيرِ وَالْمَارُّ عَلَى الْقَاعِدِ وَالْقَلِيلُ عَلَى الْكَثِيرِ). صحيح البخاري (١٥/ ٥١٦)

ترجمه:- د حضرت ابو هریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : چې کوچنی دې په لوی سلام اچوي ، او په لاره باندې تلونکی او روان دې په ناستو خلکو سلام اچوئ او لږ سړي دې په لوی ډلې سلام اچوئ.

په یو بل لفظ کې راځي: (يسلم الراكب على الماشي) په سپرلۍ سپور دې په پیاده تلونکي باندې سلام اچوئ.

o که چیرې څو کسان وي له دوی څخه یو کس سلام واچولو سنت اداء شو ؛ ځکه چې د جماعت په نمایندګۍ سلام اچول سنت کفایي دي او که چیرې د هغو خلکو څخه چې سلام ورباندې اچول شوی دی یو کس د سلام جواب ورکړ، د ټولو څخه د سلام جواب ساقطیږي ؛ځکه د جماعت په نمایندګۍ د سلام ځواب واجب کفایي دی.
په یو روایت کې راځي (عن عليٍّ بنِ أبي طالب -قال أبو داود: رفعه الحســنُ بنُ علي-قال: يُجزِئ عن الجماعةِ، إذا مرُّوا، أن يُسَلِّمَ أحَدُهُم، ويُجزئ عنِ الجلوسِ أن يردَّ أحدُهم). سنن أبي داود ت الأرنؤوط (٧ /٥٠١)

ترجمه:- دحضرت علی ابن ابی طالب رضی الله عنه نه روایت دی- هغه دا حدیث مرفوع ذکر کړی دی – هغه وایي: چې د روانې ډلې نه که یو سړی سلام وکړي، نو د ټولې ډلې د طرف نه هغه کفایت کوي او که چیرې په ناستو خلکو کې چې یوسړی جواب ورکړ؛ نو هغو د ټولو له طرف کفایت کوي.

## هغه وختونه او اشخاص چې سلام اچول ورباندې نه اچول کیږي:

ځینې هغه وختونه چې سلام اچول په کې نشته په لاندې توګه دي:

هغه وخت چې امام د جمعې په ورځ په ممبر باندې خطبه لولي، هغه وخت چې ټول خلک په لمونځونو ولاړ وي او د سلام د جواب لپاره څوک نه وي، هغه وخت چې څوک د قرآن کریم په تلاوت مشــغول وي او یا د شرعي علومو په درس او تدریس اخته وي، خو ځینې فقهاء وایي چې د قرآن کریم په تلاوت کوونکي واجب دی جواب د سلام. په هغه چا سلام اچول نشته چې څوک په آذان یا اقامت مصروف وي، په هغه شیخ سلام اچول نشته چې خلک خندوي، په درواغجن سلام اچول نشته، په هغه کس سلام اچول نشته چې خلکو ته کنځل کوي او یا په بازار کې د ښځو مخونو ته ګوري او توبه ایستل یي معلوم نه وي او په سندرو ویونکي باندې سلام اچول نشته او په هغه کس سلام اچول نشته چې تشې بولی کوي او په هغه کس سـلام اچول نشـته چې کونتری الوزوي، په حمام کې سـلام اچول نشـته او په هغه چا سـلام اچول نشته چې جامې یې په تن نه وي او په دوی باندې دسلام جواب هم نشته.الفتاوى الهندية (٥ /٣٢٦)